عزيزالله (حقپال) ۲۰۱۲/۱۰/۱۵

# سل ميليونه ډالر

کابينه د دولت د دری ګونو قواو څخه يو مهم او اساسی رکن او اجرايه قوی په نوم سره ياديږی .چی اعضآوی يی د دولت وزيران دی، د وزير پوست د دی په څنګ کی چه اجراييوی دی سياسی هم دی، وزير د يو وزارت په رأس کی د پوره صلاحيت او پوره مسووليت درلودونکی دی هغومره چه صلاحيت تمثيلوي هغومره بايد مسووليت پرور هم وي ځکه چی صلاحيت او مسووليت د يوی سکې دوه مخه دی هر څومره چی صلاحيت لوړيږي او يا ټيټيژی مسووليت هم په هغه مقدار لوړيژی ا و يا ټيټيژی. يو وزير د هر امرد ورکولو څخه جوابونکی هم دی ځکه صلاحيت يی تمثيل کړ مسووليت يی هم په ده پوری اړه لری.
کله چی اوه کاله مخکې غزنې د اسلامې کلتور د ودې د ټولنې لخوا د ۲۰۱۳ کل لپاره د اسلامی کلتور د مرکز په توګه ونومول شو پکار او لازم ؤه چی د غزنی د ټولو تاريخې ځايونو د بيا جوړونی لپاره لا پخوا پلان جوړ شوی وای کارې تيمونه مشخص شوې وای تر څو د دی طلايی فرصت څخه په استفادې کولو سره نتنها تاريخې مرکزونه بياجوړونه شوي وای بلکې تر څنګ يی د پارکونو، هوټلونو د لوبو لپاره په نړيواله کچه لوبغاړې، سرکونه، هوايی ډګر د ښار عصري کولو لارې چارې د اسلامی ثقاغت مرکز جوړونه او تعلمي ګنې موسسې او مرکزونو جوړونه په نظر کی نيول شوئ وای او د اجرآ لپاره يی جهانې مرستې را جلب شوي وای، د اطلاعاتو او کلتور وزيرنه يواځی پورته ذکرشوي کارونه ونکړل بلکې د نړی لخوا د وعده شويو پيسو د تر لاسه کولو چانس يی خپله له لاسه ورکړ، په اوسنيو وروستيو وختو کی ايران د نړی يو له هغو دولتو څخه دی چی د نړيوالو لخوا تجريد شوي انزوا شويدی او هره ورځ ور باندی نوی بنديزونه او تعزيرات وضع کيږيږ. خو زموږ بيخبره د اطلاعاتو وزيرد ټولې نړی خلاف د ايران څخه لرغون پيژندوکی د غزنی د ښار د بيا رغونی لپاره را غواړي او قرار داد ور سره کوي ؛؛؛ ايا کوم سالم عقل په دا ومني چي نړيوال دې وعده شوې پيسئ د ايرانې ماهرانو پلاس ورکړی؟

د اطلاعاتو وزير رهين د ايران پرستې د حس له مخې د هيواد والو او مظلوم غزنی او غزنيوالو ګټې په نظر کی و نه نيولې، له سياسې درک څخه يی کار وا نه خستې په نتيجه کی سل ميليونه ډالر وعده شوی ډالر له لاسه ووتل. پدی سل ميليونه ډالرو د غزنی د ښار څيری تغير خوړل، مکتبونه، پارکونه، او سړکونه جوړيدای شوای، هوايی ډګر او لوکس هوټلونه جوړيدلای شوای،د ټول زيارتونو سره ښه تفريحی پارکونه او د سيل ځايونه جوړيدای شوای. د غزنی د اطراف له ولسواليو سره لارې جوړيدای شوای خلاصه ډير څه جوړيدلای شو چي ورته ضرورت دی. ولی دا هر څه د رهين د سياسې غلطې او ايران پرستې قربانې شول، پو پنا شول افغانستان همدا طلايی چانس له لاسه ور کړ او غزنی همداسې بيچاره، بيوزلې، غريب او تاريخې آثار يی وران ويجاړ په زاړه حالت پاته شو د خلکو هيلې ورانې او نا هيلې په دولت ا و واکدارانو يی بې باوري لا زياته شوه. اوس څوک شته؟ چی د رهين د دې بې احساسه او بې مسووليته بې تعقله او بی درايته عمل پوښتنه وکړي؟ پداس حالت کی لازمه ده چی : ۱ــ د اطلاعاتو او کلتور وزير مخدوم رهين د خپلي لويي تير وتني له امله خپله استعفآ وکړي . ۲ــ د افغان ولس مشرکرزی بايد په وزيرانو کی د مسووليت د احساس د را پيدا کولو پخاطر رهين د بې کفايتي په تور او وطن ته د سل ميليونو ډالرو د زيان رسولو په تور پر مخ څپيړه ورکړي او دشاپه... په لغته ووهي او څارنوالی ته يی د تحقيق لپاره ور وپيژني . ۳ــ ولسې جرګه که څه هم د ملي پريکړو کولو کومه سابقه نلري خو يو ځل دی دي خوار ملت غږ واوري او د کلتور وزير رهين دي د هيواد ګټو ته د ملی خاين په توګه سلب صلاحيت کړی، ۴ــ که دا پورته دريو وړانديزو څخه يو هم نه عملی کيږی د غزنی د خلکو سره يو ځل د ولسی جرګی په انتخاباتو کی تيری وشو بيا د نړيوالو د کړل شوی کومک په عاقلانه جلب او مصرف کی ورسره ظلم وشو د غزنيوالو درد او رنځ نه احساسه وی توجه ورته نکيږی د واليانو لابراتوار تری جوړ شوی نو د غزنی خلک د خپل ځان غم پخپله وخوری د داسی بی مسووليته وزير د داسی بی پوښتنی حکومت او د داسی بی احساسه پارلمان په ضد دی لوی او پراخ لاريونونو ته ملا وتړی او د دولت دا ټول مفسدين دې نړيوالو ته رسوا او افشأ کړي چي د دوئ په سر سياسی معاملې کوی او ځان دی د دغو معاملګرو د لوبی څخه خلاص کړي. (پای)
**منبع د بينوا ويبپاڼه**


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ